# د مریلنډ روغتیا او د ذهني روغتیا پالنې اداره
# او ستاسو روغتیایي معلومات

## د خصوصي حریم ساتلو یادښت اقدامونه

دغه خبرتیا بیانوي چې ستاسو پورې اړه طبي معلومات به څنګه کارول او څرګندېږي، او دا چې تاسوڅنګه کولی شئ دې معلوماتو ته لاس رسي ولرئ. مهرباني وکړئ په غور لاندې مواردو ته کتنه وکړئ.

**<u>مقدمه</u>**

د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ستاسو د روغتیایي معلوماتو ساتنې ته ژمن دی. د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره د قانون د تقاضا په اساس مجبور دی چې د محافظت شوی روغتیایي معلوماتو (پي اچ آی) محرمیت وساتي. په محافظت شوی روغتیایي معلومات (پي اچ آی) کې ستاسو جسماني او ذهني روغتیا پورې اړوند د پیژندلو وړ هغه معلومات چې مونږ یې له تاسو او نورو څخه ترلاسه کوو ، کوم روغتیایي خدمات مو چې ترلاسه کړی وي او یا د روغتیایي خدماتو لپاره ستاسو د پیسو د اداینې شاملې دي. د قانون د تقاضا په اساس دغه خبرتیا تاسو ته ستاسو د قانوني حقونو او زمونږ د قانوني مسؤلیتونو په اړه او د خصوصي حریم ساتلو ته په پام سره معلومات وړاندی کوي. تاسو ته د معالجې خدمت د برابرولو او یا ستاسو د روغتیایي خدماتو د پیسې ورکړې په خاطر د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) به تاسو نه ځینی روغتیایي معلومات وپوښتي چې دغه روغتیایي معلومات به ستاسو په سوابقو کې درج شي. دغه سوابقو کې عموماً د ناروغی علایم، معاینات او د ازمایښتونو نتیجې، تشخیص او معالجې شاملې وي. یا د معلومات چې ستاسو د روغتیا یا طبي سوابق به حیث ورته اشاره شوېده او په قانوني شکل د روغتیایي معلوماتو په شکل ترتیب شوی دی ښایي ډول ډول موخو لپاره وکارول شي. د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) او د هغې سوداګریز همکاران مستلزم دي چې د شخصي حریم معلومات څنګه چې په دې خبرتیا کې تشریح شوي دي تعقیب کړي او وساتي که څه هم د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) دا حق خوندي دی چې زمونږ د خصوصي حریم ساتلو او د دې خبرتیا په شرایطو کې هروخت بدلون راولي. تاسو کولی شئ چې د نوی خبرتیا یو کاپی د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) هر نمایندګی څخه غوښتنه وکړئ. دغه خبرتیا زمونږ په ویب پاڼه باندې هم خپره شوېده. http://dhmh.maryland.gov

**<u>د معلوماتو مجاز کاروني او څرګندوني</u>**

د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې د ادارې (ډي اچ ام اچ) کارکوونکي به یوازې د کار پر وخت ستاسو معلومات کاروي. د هغه کارونو په هکله چې د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) د عادي کاروبار څخه وتلی وي نو د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) باید ستاسو لیکلی اجازه نامه ولري تر هغه چې قانون د دې تقاضا کوي او تاسو کولی شئ چې دغسی اجازه نامه د یو څو محدود استثناتو نه پرته لغو کړئ. لاندې ستاسو د روغتیایي معلوماتو په اړه زمونږ د کاروني او څرګندوني یو څو ممکنه مثالونه دي.

د معالجې، د پیسو ورکړې، یا روغتیایي خدماتو پورې اړوند معاملوتو معلومات پرته له اجازې کارونه او څرګندونه

<u>معالجې لپاره</u>: د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښایي ستاسو روغتیایي معلومات د معالجې د تایدولو یا ردولو لپاره او د دې معلومولو لپاره چې آیا ستاسو معالجه مناسبه ده او کنه وکاروي او یا یې شریکه کړي. د بېلګې په توګه، د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) روغتیایي خدماتو عرضه کوونکي ښایي ستاسو د روغتیاي خدماتو عرضه کوونکی سره د معالجې بیا کتنې ته د طبي ضروریاتو او یا روغتیا ساتنې همغږی ته اړتیا ولري.

د تاديې لاسته راوړلو لپاره: د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي ستاسو روغتيايي معلومات د صورت حساب ترتيبولو په خاطر او د تاديې راټولولو په خاطر ستاسو د طبي معالجې خدماتو په ارتباط او د دې معلومولو دپاره چې آيا تاسو د دې خدماتو مستحق ياست او که نه وکاروي او شريکه کړي. د بېلګې په توګه ستاسو د روغتيايي خدماتو عرضه کوونکی ښايي د تاديې مطالبې تاسو ته د عرضه شوی طبي خدماتو په ارتباط واستوي.

د روغتيا پالنې عملياتو لپاره: د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي ستاسو روغتيايي معلومات د عرضه شوي خدماتو د کيفيت او څرونګوالي د معلومولو په خاطر او يا زمونږ ايالتي او فدرالي مفتشانو لپاره وکاروي او شريکه يې کړي.

د روغتيايي معلوماتو نورې کارونې اوڅرګندونې چې د قانون په اساس لازم او يا مجوزې دي.

د معلوماتو په موخه: ترڅو چې تاسو مونږ ته کومه بله لارښوونه ونکړئ، د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) به ستاسو د ډاکټر ليدلو د نېټې يادوني او د دې پروګرام په اړه نور مواد به ستاسو کور ته استوي.

د قانون تقاضا: د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) کېدای شی د قانون د تقاضا له مخې روغتيايي معلومات څرکند کړي.

د عامې روغتيا فعاليتونه: د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي ستاسو روغتيايي معلومات هغه وخت څرګند کړي کله چې د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني ادارې (ډي اچ ام اچ) څخه غوښتنه وشي چې د نارغيو، او ټپو په اړه معلومات راټول او يا په ادارې کې نورو برخوته او د عامې روغتيا نورو چارواکو ته د حياتي احصائيې د راپور ورکړې په خاطر وکاروي.

د روغتيايي نظارت فعاليتونه: د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) کېدای شي ستاسو روغتيايي معلومات په اداره کې له نورو څانګو ته او نورو ادارو سره د نظارتي فعالتونو په خاطر چې د قانون لخوا غوښتنه يې شوی وي څرګنده کړي. د دې نظارت بېلګې تفتيشونه، پلټنې او جوازنامې دي.

دعدلي طب مامورين، طبي معاينه کونکې، د تشييع مراسمو مدير او د بدن غړو اعانه ورکونې: د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي ستاسو روغتيايي معلومات د مرګ په ارتباط د عدلي طب مامورينو، طبي معاينه کونکو او د تشييع مراسمو مدير او موجوزو ادارو ته د غړې، سترګو او انساجو د اعانې په او د غړو د پيوندلو جراحي عملياتو اړه څرګنده او شريکه کړي.

تحقيقاتي موخې: په ځينو مشخص مواردو کې او زمونږ د ادارې د بيا کتنې پلاوی او يا د محرميت نورې ټاکل شوې پلاوې تر نظر لاندې د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي روغتيايي معلومات د تحقيقاتو سره د مرستې په خاطر شريکه او څرګنده کړي.

د عامه خونديتوب لپاره د تهديد مخنيوی: روغتيا او خونديتوب ته د جدي تهديد څخه د مخنيوی په صورت کې، د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي معلومات د اړتيا په صورت کې له قانون پلي کوونکو سره او هغه نورو افرادو سره شريکه کړي چې په مناسبه توګه کولی شي چې د تهديد د ضررڅخه مخنيوي او يا يې را ټيټ کړي.

ناوره ګټه اخيستنه او بې پروايي: د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) که په معقوله ډول په دې عقيده وي چې تاسو د يوه ممکنه ناوړه ګټې اخيستنې، بې پروايي او يا کورنی تاوتريخوالي او يا کوم نور جنايت قرباني شوي ياست نو ستاسو روغتيايي معلومات به له اوړندو چارواکو سره شريکه کړي. د مريلنډ د روغتيا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ستاسو د روغتيا او خونديتوب ته او د نورو روغتيا او خونديتوب ته د جدي تهديد د مخ ګرځولو په خاطر ښايي ستاسو روغتيايي معلومات تر هغه حده چې اړتيا ورته ليدل کېږي شريکه او څرکنده کړي.

مشخص حکومتي وظایف: د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي د نظامي پرسونل او د ترخيص شويو سربازانو روغتيايي معلومات مشخصو حالاتو کې له اصلاحي تاسيساتو سره په مشخص حالاتو کې، د حکومتي ګټو په پروګرامونو کې د شموليت او نوم ليکنې پورې اړوند او ملي امنيتي دلايلو لکه د جمهور رئیس د خونديتوب په خاطر شريکه او څرګنده کړي.

کورنۍ، دوستان او یا نور چې ستاسو په روغتیا پالنه کې ښکېل دي: د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي ستاسو روغتيايي معلومات له هغو خلکو سره شريکه کړي کوم چې ستاسو د روغتيا پالنې او د پيسو په ورکړې که ښکېل دي. د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي هغو خلکو سره ستاسو روغتيايي معلوم شريکه کړي ترڅو هغوي ته ستاسو د موقعيت، عمومي حالت او مرګ خبر ورکړي.

د کارکوونکود تېپونوتلافي: د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي روغتيايي معلومات د کارکوونکي د ټپونو د تلافي پروګرام سره چې کارکوونکو ته د کار پورې اړوند ټپونو او نارغيو په صورت کې د کارکوونکو اشتباه په نظر کې نه نيولو سره ګټې برابروي، شريکه کړي.

د نارغانو نوملړونه: د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) نهادونه په عمومي توګه هغه تيلفون کوونکو او ملاقات کوونکو ته چې ستاسو په اړه د نوم په اخيستلو پوښتنه کوي د هغوي لپاره د معلومات شريکولو نوملړونه نه ساتي. سره له دې که د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) يو نهاد نوملړ ولري، ستاسو د اجازې نه پرته به تاسو يو نا پيژندل شوی تيلفون کوونکي او يا ملاقات کوونکي ته و نه پيژندل شئ او کوم محدود معلومات چې مونږ به ورته څرګند کړو په هغه کې ښايي ستاسو نوم، په نهاد کې ستاسو موقعيت، ستاسو عمومي حالت (لکه نسبتاً ښه، ثابته) او ستاسو د ديني ترون معلومات شامل وي.

د محکمې دعوا، نزاع او ادعاوې: که تاسو د محکمې په يوه دعوا، يو نزاع او يا يوه ادعا کې ښکېل ياست، د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي ستاسو روغتيايي معلومات د محکمې يا اجرايوي امر، احضاريه، د کشف غوښتنه، ستاسو په ځای د يوه شکايت د پلټنې او يا نور قانوني بهيرونو په ځواب کې شريکه او څرګنده کړي.

د قانون تطبيق: د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي ستاسو روغتيايي معلومات د قانون پلي کونکو چارواکو سره په هغه موخه چې قانون يې غوښتنه کړی وي او يا د احضاريه په ځواب کې شريکه او څرګنده کړي.

د نورارګانونو د مجاز فعاليتونو د ترسره کېدو لپاره: د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي خپله پورتنۍ تشريح شوي فعاليتونه ترسره کړي او کېدای شي چې مونږ د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) نه بغير نورو نهادونه (د کاروباري همکارانو په نوم) په کارولو سره هغه کارونه ترسره کړو. په هغه مواردو کې چې مونږ ستاسو محفوظ شوی روغتيايي معلومات يو درېم ګړی مرجع ته چې زمونږ پرځای کار کوي څرګندوو نو مونږ به ستاسو د محفوظ شوی روغتيايي معلومات به د يو مناسب محرميت ترون له لارې خوندي کړو.

د مالي کمک ټولولو فعاليتونه: د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې اداره (ډي اچ ام اچ) ښايي ستاسو معلومات تاسو سره د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) لپاره د مالي کمک د لوړلو او عملياتو په اړه د اړيکي نيولو په خاطر وکاروي. کوم معلومات چې مونږ ستاسو په اړه څرګندوو هغه به تاسو سره د اړيکي نيولو معلوماتو پورې محدود وي لکه ستاسو نوم، آدرس او د تيلفون شمېره او هغه نېټې چې کله تاسو د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) څخه معالجوي خدمات ترلاسه کړي وو.

## ستاسو حقوق

تاسو حق لرئ چې:

د محدودیت غوښتنه وکړئ: تاسو دا حق لرئ چې د هغو روغتیایي معلوماتو په اړه چې د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ستاسو په اړه کاروي او یا ځرګندوي د محدودیت غوښتنه وکړئ. د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) که امکان ولري ستاسو غوښتنه به تطبیق کړي په استثنا د دې چې د قانون تقاضا وي. که ځرګندونه د یو روغتیایي پروګرام په اړه د تادیې قسطونو د ترسره کولو لپاره او یا د روغتیا ساتنې چارو د ترسره کولو په موخه ده (او د معالجې د ترسره کولو په موخه نه ده) او محفوظ شوی روغتیایي معلومات یوازې د روغتیا پالنې او هغه خدماتو پورې مربوطېږي چې د هغې لپاره ښکېل د روغتیا ساتنې عرضه کوونکي ته ټول مصرف خپله وکړی وي نو د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) باید ستاسو غوښتنه تطبیق کړي.

د محرمانه اړیکو غوښتنه: تاسو دا حق لرئ چې د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالنې ادارې (ډي اچ ام اچ) څخه غوښنه وکړئ چې تاسو ته معلومات په یو بېل ادرس کې او یا له یوې بلې لارې راواستوي. که مونږ لپاره د دې غوښتنې سرته رسول په معقول ډول اسانه وي نو د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) باید ستاسو له غوښتنې سره موافقت وکړي.

تفتیش او کاپي: د یو څو خاصو استثناتو نه پرته (لکه د روحي معالجې یادښتونه، د ځینو خاص قانوني اقداماتو په اړه راټول شوي معلومات او روغتیایي معلومات چې په قانوني توګه ممنوع وي) تاسو دا حق لرئ چې د لیکل شوی غوښتنلیک په رالیږلو خپل روغتیایي معلومات ووینئ. که تاسو د خپل روغتیایي معلوماتو کاپي غواړئ تاسو به ښایي د مصرف په اساس د کاپي، پوستي او د محفوظ شوی روغتیایي معلوماتو یو تشریح یا خلاصه د برابرولو یو مناسب فیس ورکړئ. تاسو حق لرئ چې د معلوماتو کومې برخې چې تاسو غوره کوئ او غواړئ کاپي شي او د کاپي کولو په قیمت د وړاندی نه معلومات ولرئ. که د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) ستاسو روغتیایي معلومات د برېښنایي روغتیایي سوانح په کارولو وساتي مونږ به په برېښنایي شکل باندې د روغتیایي معلوماتو کاپي به هر هغه نهاد ته استوو چې تاسو غوره کړی وي، په دې شرط چې دغسی انتخاب واضح، ځرګند او مشخصه وي.

د اصلاح غوښتنه: تاسو کولی شئ چې په لیکلو د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني ادارې (ډي اچ ام اچ) نه د خپل روغتیایي سوانح کې اصلاح یا وراضافه کولو غوښتنه وکړئ. د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) به ستاسو د غوښتنې ته په ۶۰ ورځو کې ځواب ځواب ووایي او تمدید ته د اړتیا په صورت کې تر۳۰ ورځو پورې د تمدیدو وخت ورکړي. که د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) معلومه کړي چې روغتیایي معلومات (۱) صحیح او تکمیل دی، (۲) زمونږ لخوا نده برابره شوی او زمونږ د سوابقو برخه نده، (۳) د ځرګندولو اجازه یې ورکړل شوې نده نو کیدای شي ستاسو غوښتنه رد کړي. که د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) د اصلاح کولو غوښتنه ومني نو د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) به روغتیایي معلومات بدل کړي او تاسو ته به خبر ورکړي، او د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) به نور ټولو اړوندو ادارو ته چې د دې بدلون نه باید خبرشي خبر به ورکړي.

د اجازې ضرورت: تاسو دا حق لرئ چې د روحي معالجې د نوټونو د ډېرو کارولو او ځرګندولو په اړه او د بازار موندنې ارتباطاتو د ترلاسه کولو او ستاسو د محفوظ شوی روغتیایي معلوماتو په خرڅولو کې ستاسو نه د اجازې غوښتنه وشي.

د شریک شویو معلوماتو محاسبه ترلاسه کول: تاسو دا حق لرئ چې د اپریل ۱۴ کال ۲۰۰۳ نه را په دیخوا ستاسو د روغتیایي معلوماتو د شویو ځرګندونو او په کومې نېټې باندې چې د محاسبې غوښتنه شوېده د هغه نېټې څخه د شپږ کاله وړاندی د لست غوښتنه وکړئ. هغه روغتیایي معلومات استثنات دي چې د معالجې، تادیې او روغتیایي چارو کې کارول شوي دي. سربېره پردې د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) اړ نه دی چې ستاسو لیکل شوی اجازه نامې په اساس ملي امنیت، د قانون تطبیقولو افسرانو او اصلاحي نهادونو ته د شویو ځرکندونو لست برابر کړي. په کال کې تر یو دغسې لست غوښتلو چارج یا فیس نشته. علاوه پردې د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) به د شویو ځرګندونویوه محاسبه به د برېښنایي روغتیایي سوانح د معالجې، تادیې او روغتیا ساتنې چارو په اړه برابر کړي خو معلومات به یې د غوښتل شوی نېټې څخه تر درې کاله وړاندې پورې محدود وي.

انصراف: تاسو دا حق لرئ چې د مالی کمک راټولولو اړیکي ترلاسته کړئ او د دې حق هم لرئ چې د مالی کمک د راټولولو اړیکې د لاسته راوړلو نه د انصراف غوښتنه وکړئ. تاسو د دې حق هم لرئ چې د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداري (ډي اچ ام اچ) د تسهیلاتو د ناروغانو د نوملړ څخه انصراف وکړئ.

د یادښت لاسته راوړنه: تاسو دا حق لرئ چې د دې یادښت کاپي په کاغذ باندی او یا بریښنایي کاپي د غوښتنې په صورت ترلاسه کړئ.
د سرغړونو یادښتونو لاسته راوړنه: تاسو د دې حق لرئ چې هرکله ستاسو په محفوظ روغتیایي معلوماتو کې سرغړونه رامنځته کیږي یادښت ترلاسه کړئ.

د ارثي معلوماتو خوندیتوب ترلاسه کول: که د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداري (ډي اچ ام اچ) د روغتیا ساتني کومه برخه روغتیایي پلان حسابیږي نو دغه روغتیایي پلان ته ستاسو د ارثي معلوماتو کارول او څرکندول د ځینو تعهداتي موخو په خاطر ممنوع دی.

د عصبي روغتیا د سوانح خوندیتوب ترلاسه کړئ: که یو طبي سوانح ستاسو د عصبي روغتیایي خدماتو د لاسته راوړلو په ارتباط پرمخ تللی دی او ستاسو د اجازې نه پرته شریکه شوې او یا څرګنده شوی نو د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) به ستاسو د سوانع نه یوازې هغه معلومات څرګند کړي چې د غوښتل شوی څرګندوني د موخې په اړه وي.

د نورو معلوماتو لپاره:
دغه سند په نورو ژبواو بڼو کې موجود او د امریکا د معلولینو قانون ښودلیک سره برابر دی. که پوښتني لرئ او غواړئ چې نور معلومات ولرئ تاسو کولی شئ (د غوره شوی محرمیت مرجع د اړیکي شمېرې په دې ځای کې ولیکئ)

---

## زمونږ د خصوصي حریم ساتلو په اړه د کومې ستونزې د راپور ورکولو لپاره:

تاسو د روغتیا او ذهني پالني اداري ته د یو شکایت درجولو په خاطر د شرکت د اجرایي برخې سره په دې شمېره اړیکه نیولی شئ ۱-۸۶۶-۷۷۰-۷۱۷۵.
تاسو کولی شئ چې د امریکا د متحده ایالاتو دعامي روغتیا وزارت او بشري خدمتونو د بشري حقونو دفتر ته شکایت وکړئ. تاسو کولی شئ چې د روغتیا او ذهني پالني اداري سره د شمېرې د ترلاسه کولو په خاطر اړیکه ټینګه کړي.

که تاسو داسې یو شکایت وکړئ نو د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداره (ډي اچ ام اچ) به ستاسو په مقابل کې د تلافي عمل اقدام ونکړي.
د اعتبار وړ نېټه: دغه یادښت د اګست میاشتې ۱۹ مه کال ۲۰۱۳ باندی اغېزمن دی.

---

(د پروګرام عرضه کوونکی باید اطمینان حاصل کړي چې دغه تصدیقنامه لاسلیک شوی دی.)

ناروغ یا مجوز استازی | نېټه

که دغه تصدیقنانه لاسلیک شوی نه دی، مشخص کړئ چې ولی:

د مریلنډ د روغتیا او ذهني پالني اداري (ډي اچ ام اچ) د استازی لاسلیک